# د پرمختيايي پلان د جوړيدو بهير

## 1. سريزه

### 1،1. د ولايتي پرمختيايي پلان موخه

ولايتي پرمختيايي پلان د کندهار په ولايت کې د هغو اړتياوو او لومړيتوبونو پر بنسټ، چې د اړوند ولايت خلک يې په ګوته کوي، د ۳ – ۵ کلونو لپاره ستراتيژيکي موخې ټاکي. مقصدي دادی، چې اوسني پرمختيايي پلانونه په تولیزه توګه طرح او داډ ترلاسه شي چې دا پلانونه د سيمه ييزې ټولنې اړتياوې په اغېزمنه توګه ځوابولای شي. دغه راز د ولايتي پرمختيا لپاره د هغو پروژو او لومړيتوبونو يوه ټولګه رانغاړي، چې سيمه ييز خلک او کليدي پلويان يې په اړه توافق کوي چې بايد په راتلونکي کال کې يې پر عملي کولو پيل وکړي او ډېرې مهمې ستونزې حل کړي.

په پرمختيايي پلان کې موخې (ټګلارې) د افغانستان د ملي پراختيا دتګلارې له سکټورونو سره سمې تعريف شوي او په هېواد کې د سراسري پرمختيايي پلان جوړوني لپاره چوکاټ جوړ وي. په دې تنظيم کې موخه داده چې باور ترلاسه شي او په ولايتونو کې د ټولو فعاليتونو پرمختيايي فعاليتونه يوازې د ملي پرمختيا د موخو په ترلاسه کولو کې مرسته ونه کړي، بلکې دا کار په داسې طريقو سره سرته ورسوي چې د هر ځانګړي ولايت، ولسواليو او اړوندو سيمه ييزو ټولنو ځانګړې اړتياوې او لومړيتوبونه په اغېزمنه توګه ځواب کړي.

په دې توګه ولايتي پرمختيايي پلان يو روښانه لارښود برابروي او دا لارښود له حکومت او تمويلوونکو مراجعو سره د شتومنابعو د تنظيم په برخه کې مرسته کوي، چې دا منابع په سيمه ييزه ټولنه کې مهمو او بنسټيزو ستونزو ته واړول شي او دا ستونزې حل کړي. د ولايتي پرمختيا پلان د پرمختيا لپاره هغه موخې، اړتياوې او لومړيتوبونه په روښانه توګه ځرګندوي، چې سيمه ييزو خلکو او سيمه ييزو پلويانو او مخکښانو پرې خبرې او توافق کړې وی.

قصد دادی چې د افغانستان د ملي پراختيادتګلارې په اتوسکتورونو کې داسې لس پروژې په نښه شي چې لومړيتوب لري او د ګډونوالو په اند بايد په ۱۳۸۷ کال کې پيل شي. د حکومت ټول وزارتونه، اړوند ولايتي رياستونه، د ولايتي بياروغونې ډلې، ملي سازمانونه، نادولتي ټولنې، تمويلونکي او مرستندويې ټولنې چې په ولسواليو کې فعالې دي، خپله توجه لومړيتوبونو ته واړوي او د يو داسې همغږي پراختيايي پروګرام د جوړولو لپاره هڅه وکړي چې په اړتياووکې د بدلونونو د رامنځ ته کولو جوګه وي البته د داسې بدلونونو چې سيمه ييزو خلکو په خپله په ګوته کړي وي او دا به د خلکو پر ژوندانه تر ټولو ډېره مثبته اغيزه ولري.

### 1،2. دافغانستان دملي پراختيايي تګلارې دولايتي سلامشورو او ولايتي پرمختيايي پلان جوړونې بهير

ولايتي سلا مشورې(SNC) او ولايتي پرمختيايي پلان جوړونه (PDP) د افغانستان د بشپړې پراختيا يي تګلارې په فورمولبندۍ کې محوري عناصر جوړ وي.

د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتيژۍ په برابرولو کې د مدني ټولنې ګډون د منځمهالو پراختيايي موخو په باب د پراخ ملي توافق په ترلاسه کولو کې د يوې ګټورې وسيلې په توګه پيژندل شوی دی. له دې امله د افغانستان حکومت د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتيژۍ په اړه سلامشورې او خبرې اترې د پراختيا د هغې تګلارې لپاره يوه کونجي بولي، چې په خپله افغانانو جوړه کړې ده (او د فغانانو خپل ملکيت دی) او ډاډ ورکوي چې د ملي پراختيا په ستراتيژۍ کې لومړيتوبونه د افغانستان د خلکو تر ټولو ښې ګټې غبرګوي. دولايتي سلامشورو اوولايتي پرمختيايي پلان جوړونې بهيرد هغه مشورتي بهير يوه ستره برخه جوړوي چې د افغانستان د ملي پراختيايي تګلارې له خوا دا خلاً د ننه په حکومت او ملي شورا کې او خارجاً د مدني ټولنې او تمويلوونکو مراجعو له خوا عملي کېږي. دا بهير په ملي او ولايتي کچه تر سره کيږي.

له ملي شورا سره خبرو او سلامشورو ته ځکه ډېر ارزښت ورکول کيږي چې ملي شورا ملي بودجه اومهم قوانين تصويبوي. له همدې امله د ملي شورا له غړيو سره خبرې او سلامشورې به د افغانستان د ملي پراختيا د تګلارې د بشپړ تطبيق کيلي

وي. په ملي کچه له تمويلوونکو سره سلامشورې او خبرې هم د دې ضمانت کوي چې د تمويلوونکو را تلونکې مرستې به، چې د افغانستان دملي پراختيا د تګلارې لپاره د پانګې اچونې تر ټولو مهمه منبع بلل کيږي، د افغانستان د حکومت له لومړيتوبونو سره په بشپړ ډول په يو رديف کې راشي. همدارنګه د تمويلوونکيو او نادولتي ټولنو استازي به هم د افغانستان ملي پراختيا د ستراتيژۍ په کاري ډلو او مشورتي سکتوري ډلو کې برخه واخلي. په ملي کچه د خصوصي سکتور له استازيو، علماوو، کارپوهانو او د فغانستان نورو خورو ورو خلکو سره هم سلامشورې ترسره کيږي، د خصوصي سکتور د ودې او پراختيا پاليسۍ د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتيژۍ يو لومړيتوب بلل کيږي. پياوړی خصوصي سکټور د تمويلوونکو ټولنو پر مرستو پورې اوسني تړښت ته د وخت په تېرېدو سره پای ورکولای شي. په ولايتي کچه د سلامشورو او خبرو بهير داسې طرحه شوی، چې يوه داسې وسيله رامنځ ته کړي، چې د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتيژۍ په اړه د سيمه ييزو ټولنو او کليوالو خلکو غږونه د خبرو اترو له لارې راغبرګ او د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتيژۍ په (٨) سکټورونو کې د د پنځلسو وزارتونواوادارود ستراتيژيو په اړه د کليو د پراختيا د پلويانو او مخکښانو له يو لړ پراخو نظرياتو او مفکورو سره يو ځای کړای شي. دا٨ سکټورونه په لاندې ډول دي.

- **امنيت: د کورنيو چارو وزارت، د نشه يي توکيو پر وړاندی د مبارزې وزارت**
- **پوهنه: د پوهنې وزارت، د لوړو زده کړو وزارت**
- **روغتيا: د عامې روغتيا وزارت**
- **کرنه او د کليو پراختيا: د کرنې، اوبولګولواو مالدارۍ وزارت، اود کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت**
- **بنسټيزجوړښتونه او طبيعي زيرمې: د فوايد عامې وزارت، د انرژۍ او اوبو وزارت او د ښاري پراختيا وزارت**
- **اقتصادي حاکميت اودخصوصي سکتور پراختيا: دسوداګرۍ اوصنايعووزارت**
- **ټولنيز خونديتوب: د کار او ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت، د کډوالو او راستنېدونکيو چارو وزارت**
- **حکومتداری،دقانون حاکميت او بشري حقونه: د عدليې وزارت، د فساد او بډې اخيستنی پر وړاندی د مبارزې خپلواکه اداره.**

**د ولايتي پرمختيايي پلان جوړونې پروسه په ملي او ولايتي** کچه نور داسې وسايل تضمين او بسياکوي چې د افغانستان د ملي پراختيايي تګلاره (ANDS)په بشپړ ډول د افغانانو ملکيت وګرځوي. د ولايتي پرمختيايي پلان جوړونې بهير د دې لپاره طرحه شوی، چې د سيمه ييزو ټولنو او ولسواليو د پلان جوړونې د موجودو نوښتونو پر بنسټ پلانونه جوړکړي، هغوی ته وده او پراختيا ورکړي او دا پلانونه د ملي ستراتيژيک پرمخيتايي چوکاټ سره يوځای کړای شي. د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت او اقتصاد وزارت د ملي پيوستون د پروګرام له لارې ١٦٧٥٣ پرمختيايي شوراګانې جوړې کړي دي او دا شوراګانې پرمختيايي پلانونه جوړوي. همدارنګه د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت به د سيمه ييزې پراختيا د پروګرام له لارې د ولسواليو د پرمختيايي شوراګانو د جوړولو د بهير مرسته او ملاتړ هم وکړی. د ولسواليو پرمختيايي شوراګانې د ټولنې د پرمختيايي شوراګانو له استازيو (البته په هغو ځايونوکې چې پرمختيايي شوراګانې نه وې، له دوديزوشوراګانو) څخه جوړې شوې او دغه شوراګانې د ولسوالۍ پرمختيايي پلانونه جوړوي. اوس په ٢٢ ولايتونو کې د ولسواليو١٧٠ پرمختيايي شوراګانې جوړې او د ولسواليو١٧٠ پرمختيايي پلانونه فورمولبندي شوي دي.

د ګډون او برخې اخيستو له لارې د ولايتي پرمختيايي پلانونوجوړولو موخه داده چې د ولسوالۍ د پرمختيايي پلانونو عاملونه او پانګه اچونه، همدارنګه د اړوندو وزارتونو ستراتيژۍ او لومړيتوبونه او نور کليدي پلويان او مخکښان دې ته پام واړوي، چې د ټولو ولايتونو لپاره پرمختيايي پلان فورمولبندي اوجوړ کړي. دغه راز د ولايتي پلان جوړونې بهير قصد لري چې د افغانستان د ملي پراختيايي تګلارې له لارې له ملي پلان جوړونې جوړښتونوسره اړيکې ولري ترڅو په هر ولايت کې پرمختيايي فعاليتونه داسې تنظيم کړي چې د ملي ستراتيژيکوپرمختيايي موخو د لاسته راوړنوپه برخه کې مرسته وکړي.

د ولايتي پرمختيايي پلانونو فورمولبندي په ډېرو ولايتونو کې مخکې له دې چې د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتېژۍ بهير پيل شي، پيل شوې وه. د ٢٠٠٧ زيږديز کال د اپريل د ميا شتی په ٢١ نيټه ولايتونو کې ولايتي پرمختيايي پلانونه برابر شوي ووخو دغو پلانونو يو شمېر ستونزې لرلي چې له ځينو څخه يې په لاندې ډول يادونه کوو:

1. د پلان جوړوني په پروسه کې سیمه ییزې ټولنې په سمه توګه نه وې ګډې کړای شوې او دغو پلانونو د سیمه ییزو ټولنو (کلیو) او ولسوالیو په کچه له فعالیتونو سره تړاو نه لاره ترڅو داسې پرمختیایي پلانونه جوړ کړي چې سیمه ییزې اړتیاوې ځواب کړي. ولایتي پرمختیایي پلانونو په ډېرو برخو کې هغه لومړیتوب لرونکې اړتیاوې نه وې رانغاړلې چې مخکې د ولسوالی په پرمختیایي پلانونو کې په ګوته شوې وې. د هغوی په اړه بنې سلامشورې نه وې شوې او له دې امله یې ډېر محدود سیمه ییز ملکیت لاره.

2. د پلان جوړونې دغه بهیرد حکومت له لوري نه وو رهنمایي شوې. د ولایتي پرمختیا داسې پلانونو شتون نه درلود چې د وزارتونوله ستراتیژیوسره سروخوري اونه هم په مرکز کې له اړوندو وزارتونو سره د سلامشورو په رڼا کې برابر شوي وي.

3. ولایتي پرمختیایي پلانونه د افغانستان د ملي پراختیایي تګلارې ( ستراتیژۍ) سره په یو ردیف کې نه ودرول شوي او همدارنګه د پلان جوړوني بهیر په ملي کچه د پرمختیایي پلان جوړوني له بهیر سره نه ونښلول شوی.

له دې امله د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژۍ د ولایتي پرمختیایي پلان جوړوني ډیپل وړاندیزوکړ چې په ولایتي پرمختیایي پلانونو کې شته نیمګړتیاوې دولایت په کچه د سلامشورو د بهیر له لارې، چې حکومت برابر کړی دی، او د ستراتیژیکي پرمختیا د موخو او د هغو لومړیتوب لرونکو پروژو د پېژندلو له لارې، چې په په اړه یې په ولایتونو کې ټولو مخکښانو او پلویانو توافق کړی دی، له منځه یوسي. دا بهیر د ولسوالی پرمختیایي پلانونه او ولایتي پرمختیایي پلانونه په ولایتونو کې د پرمختیایي اړتیاوو او د لومړیتوب لرونکو پروژو د ټاکلو په اړه د خبرو اترو لپاره د عاملونو او نظریاتو په توګه سره یوځای کوي. سر بېره پر دې ، ولایتي پرمختیایي پلانونه په ملي کچه د پلان جوړوني جوړښتونه د ستراتیژیکو موخو او لومړیتوب لرونکو پروژو له لارې د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتیژۍ له سکتوري ستراتیژیو سره یو ځای کوي.

په ملي او فرعي کچه د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتیژۍ په اړه د خبرو اترو او سلامشورو په وروستي پړاو کې به په دواړو سطحو کې د مخکښانو او پلویانو ټول نظریات د افغانستان د ملي پراختیا د ستراتیژۍ د سکتوري ستراتیژیو په فورمولبندی کې، لکه څنګه چې په لاندې دیاګرام کې راغلي دي، سره ونښلول شي.




## 1،3. ولایتي پرمختیایي پلان څنګه فورمولبندي یا جوړسو؟

ولایتي پرمختیایي پلان، چې دلته وړاندې شو، د سلامشورو د بهیر په ترڅ کې فورمولبندی شوی وو چې په هغه کې د سیمه ییزې ټولنې (کلیو) استازیو، د اړوندو وزارتونو استازیو، ولایتي ریاستونو، د ملګرو ملتونو ادارو، ملي او بین المللي نادولتي ټولنو او د پرمختیا اړوندو پلویانو او مخکښانوچې دکندهار په ولایت کې فعال وو ، برخه لرله .

دا بهیر داسې طرحه شوی و چې ولایتي پرمختیایی پلان په مختلفو سطحوکې دموجودوپرمختیایي پلانونودفعالیتونو له مخې چې مخکې په ولایت کې ترلاس لاندې نیول شوی و، جوړشي. د ولایتي پرمختیایي پلان فورمولبندي د یو شمېر لاندې توکواو نظریاتو پر بنسټ برابره شوې وه:

- د اړوند وزارت ستراتیژۍ او پلانونه او اوسنی ولایتي پرمختیایي پلان؛
- د کلیوالو ټولنو لومړیتوبونه چې په مقدماتی ورکشاپ کی وړاندیز شوی دی؛
- د ښاري ټولنو لومړیتوبونه چې په مقدماتی ورکشاپ کی وړاندیز شوی دی؛
- د زیان منو شووټولنیزو ډلو لکه کوچیانو، کډوالو، راستنیدونکو، بې ځایه شویو کورنیو او معلولینو لومړیتوبونه.

لاندې دیاګرام څرګند وي چې څنګه داتوکې د  ولایتي پرمختیایي پلان د جوړولو لپاره راټولیږي:

هغه پروسه چې د ولايتي پرمختيايي پلان د فورمولبندۍ لپاره ترې کار اخيستل شوى درې برخې لري:




**١- مقدماتي او چمتوکوونکی ورکشاپ**

په لومړي پړاو کې د وه ورځنې ورکشاپ ٢٠ /٤/ ١٣٨٦ نه تر ٢١/ ٤/ ١٣٨٦ ) جوړشو، چې د ولايت په پرمختيايي پلان جوړونه کې د سيمه ييزې ټولنې نظريات او مفکورې برابرې او پياوړې کړي. په مقدماتي ورکشاپ کې (117) برخوالو له لاندې ډلو څخه ګډون کړى و:

- (58) [د ولسوالۍ د پرمختيايي شوراګانو غړي] د کليوالي ټولنې د استازيو په توګه د53) تنو نارينه وواو 5) تنو ښځو په ګډون؛
- (35) د مخکښـانو اوښاري پلويانو استازيو، لکه [را بلل شوي ډلې د ساري په ډول : د ولا يت د مقام کار کوونکيو ، حکومتي کارکوونکيو ، ، ، متشبثينو او ښځينه ډلو] د (24) تنو نارينه وو او(11) تنو ښځو په ګډون.
- (شميرِ) تنه د هغو ډلو استازې چې په مقدماتي ورکشاپ کې استازيتوب کوي. د ساري په ډول : کوچيان د16نارينه وو او 0) ښځو په ګډون او د معلولينو (0) استازي د(0) نارينه وو او (0)ښځو په ګډون ، دمهاجرينو 8) استازي لکه ځوانان يا نورې ډلې د (0 ښځو او(0) نارينه وو په ګډون.

د جنسيت (جندر) مساوات ته ځانګړې پاملرنه شوې وه او ښځې هڅول کېدې چې په ورکشاپ کې برخه واخلي او ښځود ورکشاپ د برخوالو په سلو کې (14) تنه جوړولې. دا چې په سلو کې دېرش تنه ښځې بايد په ورکشاپ کې برخه واخلي، د ښځو چارو وزارت دا مسئله تصويب او تائيد کړې وه اما د امنيتي مشکل له امله لږو ښځو برخه واخيسته.

برخوالو د ورکشاپ په ترڅ کې هغه ټولو پېچلي ستونزي چې د هغو ولسوالۍ يا سيمه ايزې ټولنې ورسره لاس او ګريوان وو، په ګوته کړې او د دغو ستونزو د حل په ممکنو لارو يې خبرې وکړې. وروسته هرې ډلې په هر سکتور کې دوه لومړيتوب لرونکې پروژې په نښه کړې، داسې پروژې چې د دوى په اند ستونزې يې اوار ولاى شي. د ورکشاپ په پاى کې د ولسواليو او سيمه ييزو ټولنو له خوا وړاندې کړاى شوې پروژې د سکتور پر بنسټ و ټاکل شوې چې بايد د ولايتي پرمختيايي پلان جوړوني په ورکشاپ کې ترې د نظر يواوتوکو په توګه کار ورځينې واخيستل شي.

**2- دولایتي مشورو ورکشاپ:**

دویم پړاو د اړوندو وزارتونو د ملي ستراتیژیو په اړه د افغانستان د ملي پراختیایي تګلارې دولایتي سلا مشورو څخه عبارت و. یو دوه نیم ورځنی ورکشاپ په ( ۲۴/ ۴/ ۱۳۸۶ نه تر ۲۶/۴/ ۱۳۸۶) نیټي جوړ شوي و. په دې ورکشاپ کي (209) خلکو ګډون کړی وو. په دوی کي د خلکو لاندې ډلې شاملې وې:

- د سیمه ییزې ټولنې (136 استازي ، چي په مقدماتي پړاو کي یې هم ګډون لاره.
- په کابل کي له (یولسو) اړوندو وزارتونو څخه 15) استازي او له اړوندو ولایتي ریاستونو څخه (33) استازي.
- د والي له دفتر څخه (2 ) استازي، دولایتي شورا (2) غړي او له ولسي جرګي څخه (0) تنه
- د ملګرو ملتونو له ادارو، د ولایتي بیا رغاونې له ډلو او تمویلونکو څخه (11) استازي.
- 10) تنه د هغو نورو ډلو استازي ، چي په ولایت کي په پرمختیایي چارو کي فعاله ونډه لري لکه (نورې ډلې چي په ورکشاپ کي یې برخه اخیستي وه).

یو ځل بیا هڅه وشوه ، چي ښځې په ولایتي مشورتي ورکشاپ کي برخه واخلي. په سلو کي 35) برخوالي ښځې وې ، چي دا فیصدي له ټاکلي حده (۳۰%) څخه چي د ښځو چارو وزارت له خوا تایید شوي وه، ډیره یا ټیټه وه. (د ښځو د ګډون د مسئلو په اړه خبرې ور زیا تي کړئ).البته دښځو ریاست کوښښ وکړ شمیره زیات شوه.

د ورکشاپ موخه داوه چي د سیمه ییزې ټولني د خلکو نظریات را ټول او په حکومتي ستراتیژیو کي یې ځای پر ځای کړي او په ولایتونو کي د پرمختیا د مهمو اړتیاوو د لرې کولو لپاره د اړوندو وزارتونو د موخو او ستراتیژیو مناسبوالی وارزوي. برخوالو په ۸ پرمختیایي سکټور ونوکې، چي د افغانستان د ملي پراختیایي تګلارې له خوا ټاکل شوي وو ، کار وکړ . د اړوندو وزارتونو استازیو په هر ګروپ کي خپلې سترا تیژۍ وړاندي کړې. همدارنګه، دوی هغه څه چي غوښتل یې تر لاسه کړي (موخه) او دغو موخو ته درسیدو لپاره په پام کي نیول شوي لارې چارې (ستراتیژي یا پروګرام) طرح او وړاندي کړل. برخه والو په سکټورونوکي تر ټولو مهم پرمختیایي لومړیتوبونه او اړتیاوې په ګوته کړې او(د کندهار) په ولایت کي یې دسکټور لپاره موخه فورمول بندي یا جوړه کړه. دوی د وزارتونو پر ستراتیژیو خبرې وکړې او و ارزولې ، چي دا ستراتیژۍ به څنګه سیمه ییزو اړتیاوو او لومړیتوبونو ته په ښه توګه ځواب ووایي. دوی هغه اصلي عناصر چي په ستراتیژیو کي نه تر سترګو کېدل ، په نښه کړې او داسي طریقې یې طرحه او وړاندې کړې، چي د وزارتونو ستراتیژۍ ښه کړي.

**۳- د ولایتي پرمختیا یي پلان جوړوني ورکشاپ:**

په دریم پړاو کي د ولایتي پرمختیا د پلان جوړوني ورکشاپ په **۲۷/۴/ ۱۳۸۶ نه تر ۲۸/ ۴/ ۱۳۸۶)** نیټي جوړ شو. دې ورکشاپ دولایتي مشورتي ورکشاپ له پاي ته رسیدو وروسته د دوو ورځو لپاره دوام وموند او همغو برخوالو پکي ګډون وکړ. برخوالو د ورکشاپ په بهیر کي د افغانستان د ملي پراختیا یي تګلارې له سکټورونو سره سم په همغو اتو ډلو کي کار وکړ. د ورکشاپ موخه داوه ، چي داسي پروژې وټاکي چي د لومړیتوب حق لري او په اړوندو ولایتونوکي تر ټولو مهموپرمختیایي اړتیاوو ته ځواب وویلای شي. دهر سکټور اړوندې پر وژې له (له هغو پلانونو څخه چي د ولایتي پرمختیایي پلان جوړوني په ورکشاپ کي وړاندې شوي یعنی_د موجوده ولایتي پرمختیایي پلان ، د اړوندو ریاستونو پلانونه) ،دپروژو له هغه لست څخه چي دټولني دخلکو له خوا وړاندیز شوي وي، په شمول د هغو پروژو چي دولسوالی دموجوده پلان څخه اخستل شوي وي ، وټاکلي . دهرې پروژې لپاره اساسي معلومات، لکه د پروژ ې موقعیت ،اندازه ، حدود او بریدونه، د پام وړ ګټه اخیستونکي او تطبیق کوونکی اداري ، را ټول کړای شول.

په لومړی ګام کي دا پروژې و ارزول شوی چي داډ تر لاسه شي:

- باید تر ټولو مهمو اړتیاوو ته ځواب ووایي او په اړوند ولایت کي د سکټور د موخې په تر لاسه کولو کي مرسته وکړي
- ایا د اړوند وزارت له ستراتیژیو سره سمون لري ؟
- ایا په لومړي کال کي د تطبیق وړ وي ؟

وروسته برخه والو، پروژې د هغوی د لومړیتوب د حق له مخې درجه بندي کړې او په هر سکټور کي یې لس پروژې وټاکلې البته داسي پروژې چي تر ټولو مهمې ګڼل کیدې ترڅودتطبیق کار یې بیل شي ( باید په لومړي کال کي تطبیق شي). دا درجه بندي د لومړیتوب د حق له مخې پر لاندې معیارونو ولاړه وه:

- هغه پروژې چي په ولایت کي د راتلونکي کال تر ټولو مهمی اړتیا لرې کړي؛

- هغه پروژې چې ټولې ډلې ترې ګټه واخلي؛
- هغه پروژې ، چې په لږ کیو او داسې ډلو پورې اړه ولري ، چې په سیمه کې ځانګړې ستونزې لري؛
- هغه پروژې ، چې د لومړي پړاو په توګه د نورو فعالیتونو لپاره ضروري وي؛
- ( هغه نور معیارونه چې د پام وړ ډلې له خوا د پروژو دردیف بندۍ لپاره کارول شوي دي)

هغه پروژې چې د لومړیتوب حق لري او د پروژو پلویانو او مخکښانو پرې توافق کړی او باید په لومړی کال کې تطبیق شي،په ولایتي پرمختیایي پلان کې دهر سکټور لپاره ځای کړای شوي وي.

په پای کې (د لومړیتوب لرو نکو 80هغه پروژې چې د لومړیتوب حق لري، د136برخوالو له خوا چې د سیمه ییزې ټولنې او د سیمې د مخکـښانو او پلویانو وه ،طرحه او وړاندې شوې.

په هر سکټور کې د پروژو بشپړ لست (دهغوپروژو په ګډون، چې په راتلونکو کلونو کې به تطبیق شي) دولایتي پرمختیایي پلان په ضمیمه کې شامل شوی دی.

دا پروسه د اسانتیابخښوونکو دمرکزي ټیم له خوا چې د (هغه سازمانونه چې د کابل د ټیم اسانتیابخښوونکي له هغوی څخه راغلي وولکه : دسیمه ایزې پرمختیا ملي پروګرام (NABDP )، دکلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت ، د اقتصاد وزارت او(DAI ) ادارو کارکوونکي وو، پر مخ یوړل شوه. له یادوشوو اسانتیا بـخښونکوسره د ( ښځو چارو ، د پوهنی ،عامی روغتیا، اقتصاد،.کلیو د بیارغونی او پراختیا ،کرنی ،فواید عامی او مخابراتو وزاررتونه اود ښاروالۍ ریاست ) ولایتي ریاستونوله خوا برابر شو اسانتیا بخښونکو اولیکونکومرسته اوهمکاري کوله. په ((کندهار) ولایت کې دولایتي سلا مشورو په پروسه کې دګډون په هکله اضافي معلومات دولایتي پرمختیایي پلان په ضمیموکې موندلی شئ.

همدارنګه دا پروسه په لوژستیکي چارو، همغږۍ او سمون کې د ( د هغو سازمانونو نومونه چې په همغږۍ او د ورکشاپ په جوړولو کې یې مرسته کړېده: ، په اړوند ولایت کې د افغانستان د ثبات د پروګرام سلاکار ، دافغانستان دکلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت اړوند ریاست ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونومرستندوی پلاوی (UNAMA)، د ولایتي بیا رغونې ډله او نړیوال سوله ساتی ځواکونه( ایساف ، CIDA له خوا له پیاوړي ملا تړ څخه برخمنه وه.

## 1،4. د ولایـتي پـرمـختـیـا یـي پـلا ن د بـشـپـړولـو بـهـیـر:

د ولایتي پرمختیایي پلان د جوړلو لپاره دسلا مشورو بهیر دافغانستان په ټولو ٣٤ ولایتونو کې د ٢٠٠٧ کال د جون څخه د اګست ترپایه پورې تر سره شو. دا عملیه د وخت له پلوه له ډېرو فشارونو سره مخ وه، چې سرچینه یې د وخت په اړتیا کې وه ، چې په دې توګه د مالي وجوهو د تخصیص دبهیر له مهالو یش سره سمون ومومي. په دې دلیل دپلان جوړونې د بهیر پر مهال بودیجه د کارولو لپاره موجوده نه وه. د بودجې د تحقیق عملیه د لومړیتوب لرونکو پروژو یو ځای کولو ته چې په هر ولایت کې په ملي کچه په سکټوري ستراتیژیو کې په نښـه شوي دي ، اړتیا لري. دیو ځای کولو دا بهیر به دافغانستان د ملي پراختیا دستراتیژي د سکرتریت له خوا رهبري شي . کله چې سکتوري ستراتیژۍ بشپړې شي، دلومړیتوب لرونکو پروژولګښتونه ) به د وزارتونو له خوا وټاکل شي او بودجه به ور ته بېله شي.

د ولایت په سطحه والیان د ولایتي پرمختیایي کمیټي او ولایتي پرمختیایي پلان قانوني کړي او دو لایتي پرمختیایي پلان مالکیت خپل کړي او دا پلان به سر له همدې نېټه په خپلو ولایتونو کې د پلان جوړونې د چارو ا وټولو پرمختیا یي فعال یتونو په اړه له تمویلوونکو مراجعو، نړیوال سازمانونو او نا دولتی ټولنو سره د خبرو اترو د بنسټ په توګه وکاوري . په ځانګړي ډول، ولایتي پرمختیایي کمیټې به اړتیا ولري چې فعالیتونه د هغو اړتیا وو او لومړیتوبو پر بنسټ برابر کړي چې د سلا مشورو په بهیر کې په پام کې نیول شوي وو. په دې توګه به په پام وړ ولایت کې د پرمختیایي حالت په اړه بشپړ تحلیل برابر شي. پردې بر سېره، برخه والو د ولایتي سلا مشورو په بهیر او ولایتي پرمختیایي پلان جوړونه کې په هر سکټور کې دیو شمېر وزارتونو وندې ته پام واړاوی چې د ملي ستراتیژۍ په اړه یې سلا مشوره غوښتې وه. خو دا ټکي په بشپړ ډول روښانه دی چې د وزارتونو، حکومتي ادارو ، نا دولتي ټولنو د پروژو دتمویلوونکو مراجعو او نورو سازمانونو ستراتیژۍ او پروګرامونه به کلیدي رول ولري او په پرمختیایي چارو کې دخلکو له خوا د ښودل شویو اړتیا وو په لرې کولو کې به دا رول ولو بوي. د ولایت په کچه د ولایتي پرمختیا د پلان د بشپړولو یوه مهمه برخه د هغو بیلابېلو عواملو، فعالیتونو او نوښتونو په ګوته کول او دهغوی د نقشې کښل (Mapping) دي چې په هر سکټور کې اړتیاوو او لومړیتوبونه

ته په ځواب ويلو کې شامل دي. له دې امله دهغوی فعاليتونه کېداى شي په اغېزمنه توګه سمون ومومي او په دې توګه له موجودو منابعو او زيرمو څخه تر ټولو ښه ګټه واخيستل شي.

د دې ټکي په پام کې نيولو سره ، چې د پرمختيا مسئلې پيچلې ماهيت او څو سکټورونه لري ، دتعجب ځای به نه وي که د ولايتي پرمختيا په پلان کې له يو څخه په ډېرو سکټورونو کې د لومړيتوب لرونکو پروژو په لست کې همغه فعاليتونه يا ورته فعاليتونه غوره کړای شي .

والي، ولايتي پرمختيا يي کميټه او دپروژو مخکښان يا پلويان به اړتيا ولري چې د لومړيتوب لرونکو پروژو بشپړ لست ته پام واړوي، داسې ګډې هڅې او همکاري وکړي چې فعاليتونه او نوښتونه سره يو ځای کړای شي او دسکټورونو تر منځ د منابعو بيلونه خپل بشپړ پړاو ته . د لومړيتوب لرونکو پروژه لستونو ته پر پاملرنې سر بېره د پروژو مخکښان او پلويان بايد يو ځای کار وکړي او په هر سکټور کې دپيشنهاد شويو پروژو بشپړ لست ته پام واړوي او په دې تو ګه د پرمختياد داسې منځمهالي ستراتيژ ی ستره وسيله فورموليندي کړي چې موخه يي په راتلونکو ٣ – ٥ کلونو کې د سيمه ييزو ټولنو د اړتيا وو پر له پسې لرې کول وي.

## 1،5. د ولايتي پرمختيا يي پلان محتويات:

د ولايتي پرمختيايي پلان لومړی برخه دولايت په اړه لنډ معلومات لري او همدارنګه د پام وړ ولايت په اړه يو څه عمومي معلومات طرحه کوي او دافغانستان د ملي پراختيا د ستراتيژۍ په اړه په پام وړ اته سکټورونو کې د پراختيا د روان حالت په باب د معلوماتو او اطلاعاتو يوه ټولګه هم لري. دا عمومي معلومات له هغوی موجودو منابعو څخه را ټول شوي دي چې د عامو خلکو په منځ کې شته او د افغانستان د ټولو ولايتونو لپاره د معياري معلوماتو او اطلاعاتو ټولګه برابر وي. د دغو عمومي معلوماتو موخه داده، چې په پرمختيا کې د وړاندې تګ د ارزونې لپاره داسې يو بنسټ برابر شي، چې د ولايتونوپه منځ کې د وخت په اوږدو کې د مقايسې او اندازې وړ وي او د منابعو د معياري معلوماتو لپاره يو مراجعوي جدول هم په کې راځي .

ځينو ولايتونو دپرمختيا د حالت په اړه ډېر پراخ تحليل ته مخه کړيده او دا تحليل به پر ملي بنسټ د عمومي معلوماتو لپاره، چې په ولايتي پرمختيايي پلان کې راټول شوي دي، بشپړ ګټور معلومات برابر کړي.

د ولايتي پرمختيا د پلان دوهمه برخه د (کندهار) ولايت لپاره د پرمختيا کليدي موخه، چې د سلا مشورو په بهير کې د برخوالو له خوا تعريف شوي،په لنډډول رانغاړي.

دولايتي پرمختيايي پلان دريمه برخه د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتيژۍ په اتو سکټورونو کې د پام وړ ولايت د خلکوله خوا د پرمختيايي پروژو په اړه وړاندې کړای شوي لومړيتوبونه او اړتيا وې تعريفوي. په دې برخه کې هغه څه طرحه کېږي او نقشه يي ايستل کېږي چې د حکومت ستراتيژي به څنګه دغو اړتياوو او لومړيتوبونو ته ځواب وايي او د لسو په شاوخواکې د هغو پروژو لست برابر وي چې دلومړيتوب حق لري او سيمه ييز پلويان او مخکښان فکر کوي چې بايد په لومړي کال کې تطبيق شي.

د ولايتي پرمختيايي پلان وروستی برخه هغه ضميمې را نغاړي چې د ولايتي پرمختيا معلومات برابر وي. په ځانګړي ډول؛

- په (کندهار) ولايت کې دسلا مشورو د بهير د حاضری نچوړ شوي معلومات او اطلاعات؛
- د اړوندو وزارتونو د استازو يو لست، چې په ولايتي ورکشاپ کې يې ستراتيژۍ وړاندې کړې او د ولايتي پرمختيايي پلان جوړونې په ورکشاپ کې يې ګډون کړی وو.
- د هغو کار کوونکو لست چې د سلا مشورو بهير يې اسانه کړی

## 2. ولاتی پیژندنه




Source: UNDSS Provincial Assessment provided by UNAMA

## 2،1. عمومي معلومات

### الف: جغرافيه

قندهار ولايت د افغانستان جنوب خواته پروت ولايت دی چی شمال خوا ته له ارزگان ، لويديځ خوا ته له هلمند، ختيځ خوا ته له زابل ، او همدارنگه سهيل (جنوب) خواته د پاکستان له بلوچستان سره نږيواله پوله لري. . مساحت يي 47676 کيلومتره مربع دی. ځاور پر پنځمه برخه (84.5٪) يي همواره ځمکه ده ،او 7.6٪غرنی يا نيمه غرنی او پاتي دري برخي يي اوار (همواره) ځمکه (۲۸٪) ده لکه چي په لاندي ښودل شوي .

| توپو گرافيک ډول | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | اواره (همواره) | غرنی | نيمه غرنی | نيمه اواره | نه ده ريپورټ شوي | ټول ټال |
| % | %84.5 | %2.6 | %5.0 | %6.8 | %1.1 | 100.0% |

Source: CSO/UNFPA Socio Economic and Demographic Profile

دقندهار ولايت په رسمی 16 او ۲غير رسمی ولسواليو وېشل شوی. ولايتي مرکز يي قندهار دی چي د وگړو شميېر يي ۱۰۰۰۰۰۰ وگړی دي.

### ب: ډيموگرافک او نفوس

د قندهار په ولايت ټول ټال ۱۰۰۰۰۰۰ وگړي ژوند کوي. په دغه ولايت کی 14445 کورنی دي چي په اوسط ډول هره کورنی 7 غړي لري. په لاندي جدول کي د وگړو شميېر د ولسواليو له مخي ښودل شوی .

| د ولسواليو له مخي د وگړو شمېره | | | |
|---|---|---|---|
| د ولسوالی نوم | نارينه اوسيدونکي | ښځينه اوسيدونکي | ټول ټال نفوس |
| د قند هار ښار | 243600 | 224600 | 500000 |
| دامان | 12700 | 12100 | 50000 |
| ارغستان | 14800 | 14100 | 20000 |
| ارغنداب | 26400 | 9465 | 60000 |
| پنجوايی | 42400 | 40400 | 40000 |
| ميوند | 20900 | 19800 | 30000 |
| خا کريز | 9900 | 9300 | 20000 |
| غورک | 4100 | 3900 | 10000 |
| سپين بولدک | 21000 | 2000 | 70000 |
| شوراېک | 4900 | 4700 | 20000 |
| ريگستان | 800 | 800 | 5000 |
| معروف | 14200 | 13500 | 20000 |
| شاه ولی کوټ | 18700 | 17700 | 30000 |
| ژيری | 25500 | 2400 | 40000 |
| نيش | 5800 | 5500 | 5000 |
| ميا نشين | 6500 | 6100 | 10000 |
| ډند | | | 65000 |
| تخته پل | | | 10000 |
| ټول ټال | | | 1000000 |

Source: CSO/UNFPA Socio Economic and Demographic Profile

د قندهار په ولايت کي نږدي 68 په سلو کي خلک په ولسواليو اوپه کليو کي او 32 ٪ يی په ښار کی اوسيږي، له دوی څخه يي نږدي ۵۱ په سلو کي نارينه او ۴۹ په سلو کي ښځينه دي. د قندهار اکثد قومونه پښتانه دی لکه: با رکزی، پوپلزی ، الکوزی ،نورزی او علی زی.. 98٪ کليو کی خلک يی په پښتو وايي.په دری ژبه ۶ کليو کی 4000 وگړی او پاتي ۹ کليو کی خلک په نورو مختلفو ژبو خبری کوی

همدارنګه د قندهار په ولایت کي کوچیان اوسیږي چي شمېره یي په بېلا بېلو موسمونو کي توپیر کوي. د ژمي په موسم کي 3.3٪ 79.949کوچیان په قندهار کي اوسیږي. 1٪ په سلو کي کوچیان د لنډ مهال د پاره او 51٪ په سلو کي د اوږدي مودي د پاره له یو ځای ځخه بل ځای ته کوچیږي.٪۴۸ یی ځای په ځای دی . په اوړی کی اوژد مهاله کوچیان غزنی ، زابل او ارزګا ن ولایت ته راسنیژي. د اوړي په موسم کي د کوچیانو شمېر 39.082 تنه وي.

### ج: اداري جوړښت:

د قندهار په ولایت کی د دولتی نماینده ګان اړوند دفاتر موجود دی چی په لاندی جدول کی ښودل شوېږ.

| شمیره | ریا ستونه | شمیره | ریاستونه | شمیره | |
|---|---|---|---|---|---|
| | **قندهار کی مهم ولایتی ریا ستونه** | | | | |
| 1 | اقتصا د | 12 | ترانسپورت | 23 | راډیو او تلویزیون |
| 2 | د کلیو بیا رغونه | 13 | ښاری پراختیا | 24 | اداری اصلاحات |
| 3 | کرهنه | 14 | تولنیز خد مات | 25 | ګمرک |
| 4 | روغتیا | 15 | محیطی خوندیتوب | 26 | د نشیی توکو پر ضد مبارزه |
| 5 | اطلاعات او فرهنګ | 16 | برق | 27 | مذهبی چارو |
| 6 | پوهنه | 17 | ابو لګونی | 28 | ما لی |
| 7 | عامه کارونه | 18 | مخا برات | 29 | املاک |
| 8 | ښځو چارو | 19 | سوداګری او صنایع | 30 | قومی |
| 9 | مها جرین او راستنیدونکی | 20 | بهرنی چاری | 31 | |
| 10 | ښاروالی | 21 | سپورت | 32 | د میوو صنایع |
| 11 | احصا یه | 22 | سره صلیب | 33 | پو هنتون |

دقند هار په ولایت کي حکومت 6738 تنه کارکوونکي لري. لکه په لاندي جدول کي، 68 په سلو کي یي **دولتي** کار کوونکي او 32 په سلو کي یي **قراردادیان** دي. 93 په سلو **کي** د حکومت کارکوونکي نارینه او 7 په سلو کي ښځنه دي.

| | نارینه | ښځینه | ټول ټال |
|---|---|---|---|
| **ددولتي کارکونکو شمیر** | | | |
| قراردادیان | 2065 | 72 | 2137 |
| دایمي کارکوونکي | 4184 | 417 | 4601 |
| ټول ټال کارکوونکي | 6249 | 489 | 6738 |

Source: CSO Afghanistan Statistical Yearbook 2006

هر ولايت په خپله يوه ولايتي پرمختيا يی کميته لري چي مسؤليت يي د دولايتي پرمختيايي پلان دتطبيق کنټرول او څارنه ده او ولايتي پراختيا کميته به په راتلونکي کي ولايتي انکشافي پلان جوړوني ته لاربسوونه کوي. په دغه کميته کي حکومتي ټول لوی ډيپارټمينټونه او هغه شريکي دلي ګډون لري کومي چي د قندهار په ولايت کي په پرمختيايي فعاليتونو بوخت دي. او همدارنګه يو شميږ ډلي يي بيلا بيلو سکتورونو ته ورکړي چي مشري يي د يوه اساسي او اړوند ډيپارټمينټ مشر کوي. د ولايتي پرمختللي کميټي او ټولو هغو ملګرو ډلو جوړښت د اقتصاد وزارت له خوا د افغانستان په ټولو ولايتونو کي منلی شوی، لکه په لاندي جدول کي چه ښودل شوي

**د ولايتي پر مختيايی کميتي جوړښت چي د اقتصاد وزارت له خوا منل شوی**

د ولايتي پرمختيايي کميته د قندهار په ولايت کي د ۲۰۰۵ کال په ورستيو کي جوړه شوه. د ۲۰۰۷ کال د اپريل په مياشت کي




يوناما (UNAMA) د قندهار ولايت د پرمختيا يي کميتې ارزونه وکړه:

| UNAMA يوناما له لاری د قندهار په ولايت کې د ولايتي پرمختيا يی کميتې ارزونه | |
|---|---|
| ملاتړي اداري | دولايتي پر مختيا يی کميتی وضعيت |
| UNAMA, , PRT, CIDAand other stakeholders | ولايتي پر مختيا يی کميتی کله نا کله دايريدی او دوالی دفتر او د اقتصاد وزارت ولايتی رياست د ولايتی پر مختيا يی کميتی د جلسالو په تنظيم کی عمده رول درلود. |

Source: UNAMA, April 2007

د قندهار په ولايت کې يو شميږ نوري اداري دي چي په سيمه ايزه کچه د پرمختګ په پلان جوړوونه کې فعال ونده لري. د دغه ولايت په ۱۷ ولسواليو کې ټولنيز پرمختيايي شوراګاني موجودي دي چي 498يی نارينه او23يی ښځينه په کې ونده لری. او هر ولسوالی پر مختيا يی جرګه خپل دوه ولايتی پرمختيا يی پلان لری. همدارنګه ۴۹۶ د ټولنې د پراختيا يي شوراګان لری چي په پر مختيا يی پلان کی د کليو په سطحه فعاله ونده لری. په لاندي جدول کي د ټولني د پراختيا يي شوراګانو شميږه د ولسواليو په کچه دي:

| د ولسواليو په کچه د ټولنې د پرمختيايي شوراګانو شمېره | |
|---|---|
| ولسوالی | د ټولنې د پرمختګ شوراګانې |
| قند هار | 133 |
| دامان | 63 |
| ارغنداب | 64 |
| خا کريز | 16 |
| ميوند | 63 |
| پنجوايي | 41 |
| ژيره | 75 |
| شګه | 41 |
| ټول ټال | 496 |

Source: MRRD, National Solidarity Programme (NSP)

### د. ډونر (بسپنه ورکوونکي) فعاليت

سربېره پر حکومتي ادارو د قندهار ولايت په پرمختګ کې يو شمېر کورنی او نړيوالي (بهرنی) مؤسسي فعال رول لري. د بېلګې په توګه د ملګرو ملتونو 14 مؤسسي اوس مهال د دغه ولايت په بېلا بېلو برخو کې په رغوني او اپرمختيايي پروژو کار کوي. لکه په لاندې جدول کې ښودل شوي دي :

| دکندهار په ولايت کې د ملګرو ملتونو فعاليتونه | |
|---|---|
| اداره | پروژې |
| UNAMA | د ملګرو ملتو د ټولو ادرو د پروګرامونو تنظيمول |
| UNICEF | پوهنه، روغتيا، د ماشومانو خونديتوب، د اوتو خونديتوب |
| WFP | خواړه د کار په بدل کې |
| UNHCR | مهاجرين او راستنيدونکی،شلتری،روغتيا يی فعا ليتونه د ظرفيتونو لوړوالی |
| FAO | کرهنيز فعاليتو |
| UNDP/AIMS | د ظرفيتونو لوړوالی او احصا يوی فعاليتونه |
| UNDP/ANBP | پوهنه او امنيتی موضوعات |
| UNDP/UDG | ښاری پراختيا |
| UNDP/NABDP | اعمار ، کرهنه، بيا رغونه او پوهنه |
| UNODC | د نشی پر توکو پر ضد مبارزه او د معشيت بديل |
| UNMACA | د ماينونو پا کول |
| UN Habitat | ښاری او د کليو پراختيا |
| UNOPS | د سرکونو جوړول |

Source: UNAMA

همدارنګه دقندهار په ولايت کې 9 کورنی او بهرنی مؤسسي د پرمختيايي په ملاتړو پروژو کې په يوه اندازه سکتورونو کې کار کوي، لکه په لاندې جدول کې ښودل شوي :

| د کندهارپه ولايت کې د کورنيو او بهرنيو مؤسسو فعاليتونه | |
|---|---|
| مؤسسه | پروژې |
| ICRC | روغتيا او د اوبو تعقيم |
| JICA | پوهنه او د سرکونو جوړول |
| IR | کرهنه، د اقتصاد پياوړتيا او د خوړو و يشل |
| Tear Fund | پوهنه، روغتيا او شلتر جوړول |
| BRAC | کوچنی قرضی |
| SCUK | پوهنی فعاليتونه |
| HI | |
| CADG | |
| MC | |

Source: UNAMA

په لاندنیو نادولتي مؤسسو سربېره په دغه ولایت کې د اسانتیا برابرونکو شریکانو په توګه د ملي پیوستون د پروګرام د پاره په ټولو ولسوالیو کې کار کوي. په لاندې جدول کې ښودل شوي :

| هغه مؤسسې چې د سهویت برابرونکې مؤسسې په توګه د ملي پیوستون په پروګرام کې د ولسوالی له مخې کار کوي | |
|---|---|
| ولسوالی | سهولیت برابرونکې |
| ارغنداب | UN Habitat |
| دامان | UN Habitat |
| قندهار | UN Habitat |
| خا کریز | UN Habitat |
| میوند | UN Habitat |
| پنجوایی | UN Habitat |
| سپین بولدک | UN Habitat |
| ژیره | UN Habitat |

Source: MRRD, National Solidarity Programme (NSP)

## 2،2. د قندهار په ولایت کې د پرمختګ اوسنی حالت

**الف: بنسټیز جوړښت او طبیعي زېرمې:**

د خصوصي سکټور د جوړوني او پراخیدلو د پاره د لومړنیو بنسټیزو جوړښتونو برابرول لکه پاکې اوبه، انرژي، ټرانسپورټ ، ارتباطات (اړیکې)، مناسبه اقتصادي وده، د خلکو په کار ګمارل او چټک زراعتي تولید په قندهار کې له مهمو عناصرو څخه دي. (64٪) کورنی یې د صحی اوبو ښښلو لوی منابعو ته لاس رسی لري، چې 99٪ د کلیو او ٪۵۰د ښار خلک شامل دی .او له 87٪ څخه زیادتر کورنی مستقیم لاس رسی اوبو ته لری.همدارنګه یوه له لسو کورنیو (۱۰٪) څخه مجبوره ده چې د اوبو راوړلو د پاره تر یو ساعت پورې مزل وکړي ، لکه په لاندې جدول کې ښوودل شوي .

| هغه وخت چې د ښښلو اوبو لویو منابعو ته د لاس رسي د پاره ضروري دی | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | په ټولنه کې | لږ له یو ساعت نه | ۱ ـ ۳ ساعته | ۳ ـ ۶ ساعته |
| ٪ | ۸۷ | 10 | 3 | 0 |

Source: NRVA 2005

تقریبآ ٪۲۲ کورنی تشنابو ته لاس رسی لری ،حالت په ښاروکی ښه دی ا و ٪۲۰ کورنی اساسی تشنابونه لری لاکن دا فیصدی په کلیو کی 7 فیصده تشکیلوی. دغه لاندې جدول دتشنابونو اسانتیاوې را په ګوته کوي چې په دغه ولایت کې خلک ترې کار اخلي.

| د تشنابونو اسانتیاوې چې کورنۍ یې استعمالوي | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | سر خلاصي | دبنتي | سر خلاصي | کلیوال کنارابونه | اصلاح شوي کنارابونه | فلس واله(ازاد ه فضا) |
| ٪ | 6 | 20 | 3 | *49* | 19 | 3 |

Source: NRVA 2005

د قندهار په ولایت کې 27 کورنۍ په سلو کې برېښنا ته لاس رسی لري خو سره له دې ډېری کورنۍ په ولسي برېښنا تکیه کوي. په ښاری سیمو کې 85٪ کورنی نیمه برېښنا ته لاس رسی لري. لاکن په کلیوالو سیمو کې دوه کورنی په سلو کې ولسي برېښنا ته لاس رسی لري. او له دوی نه یوازی یو ٪ کورنی یې په ولسي برېښنا تکیه کوي.

د قندهار په ولایت کې د ټرانسپورټ د پاره سړکونه ډیر ښه جوړ شوی. د ولایت 76.8٪ سړکونه د موټر د ګرځېدلو د پاره په ټولو موسمونو کې وردي، او 19.1٪ یې په ځینو موسمونو کې د موټرو د ګرځېدلو د پاره ښه دي. لاکن 3.3٪ بعضی ځایو کی سړکونه نشته. ، لکه په لاندې جدول کې ښودل شوي :

| د سړک ډولونه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ولسوالی | په ټولو موسمونو کې موټرو | موټر په ځینو موسمونو کې | سرکونه نشته | نه ده رپورټ شوې |
| ارغنداب | %93.2 | %6.8 | %0 | %0 |
| خاکریز | %97.1 | %1.4 | %1.4 | %0 |
| میوند | %72.4 | %23.1 | %3.8 | %6. |
| ژیړه | %88.2 | %10.0 | %1.8 | %0 |
| پنجوایی | %85.5 | %13.6 | .9% | %0 |
| سپین بولدک | %56.7 | %34.5 | %6.9 | .0% |
| ټول ټال | ٪76.8 | %19.1 | %3.3 | %7. |

Source: CSO Provincial Profiles (AIRD Analysis)

دغه لاندې جدول  هغه وختونه را په ګوته کوي چې د ولایت مرکزقند هار  او د ولایت نورو لویو ولسوالیو ترمینځ  په سفر کې وخت نیسي او همدارنګه د سیمې نورو ولایتي مرکزونو ته.

| Road Travel Times | | | |
|---|---|---|---|
| د سړکونو باندې د مزل وختونه | | | |
| Road Condition | Time | To | From |
| له | تر | وخت | د سړک وضعه |
| قند هار ښار | سپین بولدک | تقریباً ۲ ساعته (۱۵۰ کیلومتره) | عالی ( مسیر  ۴قیر سرک) |
| قند هار ښار | قلات | تقریباً ۲ ساعته (۱۹۰ کیلومتره) | عالی ( مسیر  ۴قیر سرک) |
| قند هار ښار | لشکرګاه | تقریباً ۲ ساعته (200 کیلومتره) | عالی ( مسیر  ۴قیر سرک) |
| قند هار ښار | ترینکوټ | تقریباً 3 ساعته (200 کیلومتره). | ښه: جغل سرک |

Source: UNAMA

تر کومه چې د اړیکو او ارتباطاتو خبره ده نو د  قندهار ښار کی د روشن . اریبا  او  افغان بیسم د موبائیل کمپنی فعالي دي او همدارنګه د کابل – قندهار په لویه لاره هم کار کوي.

**ب: اقتصادي حکومت کول او د خصوصي سکټور وده:**

د خصوصي سکټور د ودې د پاره داسې حالت  او وضعه برابرول چې  وده په کې وکړي د دغې موخې د پاره اقتصادي وده، خلکو ته کار پیدا کول او د نیستی کمو ل مهم اواساسی  دي. قندهار ولایت یو  کرهنیز او صنعتی  ولایت دی. د قندهار سوداګریز فعالیتونه  په کرهنیز ، د ځارویو روزلو،تولیداتو او سوداګریز خدماتو پوری تړلي دی.

د . قندهار عمده ګټی (28٪) کورنی  کرهنه ده  چې 38٪ د کلیو کورنی او 8٪ ښاری کورنی پکی شامل دی..  په دغه ولایت کې 32٪ کلیوالي کورنی او ۱٪ ښاری کورنی کرهنیزي ځمکي او یا باغونه لري او ګټه ترې اخلي.  همدارنګه، له نیمي نه کمی (43٪)ښاری کورنی او یو پر ځاورمه کلیوالی کورنی   خپل عاید له سوداګري نه لاس ته راوړي.  په کلیوالو سیمو کې  له هرو دریو کورنیو نه یې یوه کورنی (37٪) او 27٪ ښاری کورنی  خپل عاید د ځمکي له کرلو پرته له نوور مزدوریو نه په لاس راوړي.او مالداری له یو پر لسو نه 8٪کم په کلیوالی کورنی کی مروج دی . په لاندې جدول کې ښودل شوي:

| د عایدو منابع چې د کورنیو له خوا رپورټ ورکړ شوی | | | |
|---|---|---|---|
| د عاید منبع | اطراف (٪) | ښار (٪) | ټول ټال |
| زراعت | 38 | 8 | 28 |
| څاروي | 8 | 1 | 8 |
| تریاک | 6 | 1 | 4 |
| سوداګري او نور خدمتونه | 23 | 43 | 29 |
| تولید | 3 | 2 | 2 |
| د کرنې پرته کارونه | 37 | 27 | 34 |
| حواله | 7 | 0 | 5 |
| نور | 5 | 21 | 10 |

Source: NRVA 2005

په 2005کال کی د زراعت 109کوپراتیفونه (4700نفر) د قندهار په ولایت کی موجود و چی د 2003کال (942نفر)په پرتله خورا زیات و.او دا کوزراعتی کوپراتیفونه He37015 ځمکه یی کنترول کړی چی 45.000 تن په تولید اتو کی زیاتوالی راوستیږ

عمده فصلونه چي د قندهار په ولایت کي کرل کیږي تمبا کو دی چی په 82 کلیو کی کرل کیژی،پنبه په 24کلیو کی،نیشکر په 24 کلیو کی.میوند ولسوالی کی تنباکو او پنبه په زیاته کچه تولیدیږی،سپین بولدک ، قندهار او پنجوایی کی تنباکو او ژیره او میوند ولسوالی کی دنیشکر تولیدات متمرکز دی .د خفیخه صنایعو سکتور په دی ولایت کی و جود نلری،۳ کلی په ژیری ولسوالی کی ش ات تولیدوی اوقره قل او نیشکر او په بنجوایی کی تولیدیږی. همدارنګه په قندهار کي لاسي صنایع ، غالی او لر دي. له ۶۱ کورنیو نه زیادتر په ژیری ولسوالی کی جواهرات ۱۰کلی غالی تو لیدویی چی ۳ یی په ژیره او نور یی په میوند ولسوالیوکی دی . په ۲۰۰۵ کالی داسي ویل کیدل چي 33٪ کورنی پور اخلي.چي له دی کورنیو څخه یوه محدوده فیصدی به دا پور په اقتصادی فعالیتونه لکه سوداګر ی پانګه 6٪، زراعتی عوایدو5٪ او د ځمکو اخیستل تخصیص ورکی.

**ج: کرهڼه او دکليو پراختيا :**

د کرهنیزو تولیداتو پیاوړتیا، د غیر بزګریزه پانګي اچوني په ډګر کي هڅونه، کلیوالي بنسټونو، پرمختیا او وده او همدا راز د مالي او مهارتونو پیاوړتیاو په ډګر کي پوره مرسته کولی شي چي د تولني غړي د تولیداتو او اقتصاد په بنه والي کي پوره پوره ونډه ولري لکه څنګه چي په ولایاتو کي کرهڼه یوه لویه عایداتي منبع د پرګنو د پاره ګڼل کیږي. د قندهارولایت د پرمختګ د پاره کلیواله پرمختیا لویه او بنسټیزه ،ونډه لرلی شي. په قندهار ولایت کي د فصل له پلوه عمده خوراکي توکي غنم، جوار، ختکی ، هیندوانه، ترياک او الوګان شمیرل کیږي. ددی ولایت عمده زراعتی محصولات انګور 54٪،نور میوه جات 34٪،غنم ۴٪، سبزیجات3٪ دی چی اکثرآ دی ولایت کی کرل کیږی.

دري برخي د کورنيو (38٪) د خپلو پټيو فصلونو ته چي پارو ورکړي لاس رسی لري او ، سره له دي (48٪ کورنيو نه دواړو پټيو او باغونو ته پارو ورکوي. عمده ډولونه د سرو چي په دغه ولايت کي خلک خپل فصلونو ته ورکوي په لاندي جدول کي دي:

| دهغو سرو ډولونه چي خلک يي استعمالوي | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| DAP | | يوريا | | د څارويو | انساني |
| په اوسط ډول په کورنی | ٪ | په اوسط ډول په کورنی | ٪ | ٪ | ٪ |
| Kg1284 | 81 | Kg0.234 | 81 | 48 | 47 |

Source: NRVA 2005

په اوسط ډول 46٪ کورنی ابي (هغه چي تر اوبو لاندي وي ياني خروبيري) ځمکو او نردی 17٪ کورنی للمی (هغه چي يواځي د باران په اوبو خروبيږي) ځمکو ته لاس رسی لري.

| د کورنيو سلنه (فيصدي) چي للمی او ابي ځمکو ته لاس رسی لري | | | |
|---|---|---|---|
| اوسط | ښاري | اطراف | |
| 46 | 100 | 45 | اوبي ځمکو ته لاس رسی |
| 17 | 0 | 17 | للمی ځمکو ته لاس رسی |

Source: NRVA 2005

د قندهار په ولايت کي 55٪ کليوالي کورنی او 91٪ کوچيان او ۱٪ د ښاری کورنی څاروي ساتي. عمده څاروي چي ساتي يي پسونه او ميږي، اوزي، خري وښان او رمي دي لکه په لاندي جدول کي:

| د څارويو او چرګانو سلنه چي کورنی يي ساتي | | | | |
|---|---|---|---|---|
| Livestock | Kuchi | Rural | Urban | Average |
| اوسط | ښاري | اطراف | کوچيان | څاروي |
| 15 | 1 | 29 | 15 | رمي |
| 3 | 1 | 8 | 0 | غوايي |
| 5 | 0 | 1 | 15 | اسونه |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 31 | 0 | 18 | 76 | خري |
| 16 | 0 | 1 | 48 | اوبښان |
| ۳۳ | 1 | 27 | 73 | اوزي |
| 37 | 1 | 35 | 76 | پسونه |
| 42 | 1 | 51 | 73 | چرګان |

Source: NRVA 2005

**د. تعليم**

د ډاډ وړ د ښه کيفيت زده کړه، تعليم او مهارتونه ته په ځای لاس رسی د خلکو پانګه زياتوي، نيستي کموي او مخ پر وده اقتصاد اسانوي. په ټول قندهار ولايت کې د سواد د زده کړې کچه يواځې16 فيصد ده.د نارينه ويو پر ځلور 26٪د سواد کچه ده.او ٪۵ ښځې با سواد دی له ۱۵نه تر ۲۴ کلنی نارينه و کی 22.5٪ يی با سواد دی . او په ښځو کی دا فيصدی 2.7٪ ده.، کو چيان د زدهکړ له نعمت نه برخمن ندی يواز ٪۳ نارينه يی سواد لری او ښځی يی کاملا بيسواد دی ،هر دغه اندازه په هغو ځايونو کې هم برابر ده چيرته چې يو فيصد نارينه لوستي دي. همدارنګه، له ۱۵ کلنې نه تر ۲۴ کلنې پورې د ښځو د سواد د زده کړې کچه نيم فيصد (0.5%) ده. د کوچيانو دسواد کچه په نشت حسا ب ده .

په اوسط ډول 23% هغه ماشومان چه عمريي د 6 او 13 کلنو تر منځ ده ښوونځي ده ځي همدارنګه دغه شمېره د هلکانو د پاره 33% اونجونو لپاره ٪۱۲ دی. قندهار ولايت کی کوچيان نه هلکان او نه نجونی مکتب ته ځی .دی ولايت کی 271 ابتدايي او متوسطه ښوونځی د 150342زده کوونکو لپاره موجود دی چی دی هلکانو شمير يی ٪۸۲دی او 97٪ ښوونځی يی د هلکا نو ښونځی دی . پدی ولايت کی 2476ښوونکی ښونځيو کی تدريس کوی چی له يو پر لسمی نه کم 7.4٪ يی ښځينه ښوونکی دی.

| لومړنی او منځنی زده کړې | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ښوونکي | | زده کوونکي | | ښوونځي | | |
| | | Boys | girls | boys | Girls | |
| ښځينه | نارينه | نجوني | هلکان | نجوني | هلکان | |
| - | - | 25862 | 113102 | 2 | 192 | لومړني |
| - | - | 501 | 10877 | 7 | 70 | منځني |
| 184 | 2294 | 26363 | 123979 | 9 | 262 | ټول ټال |
| 2478 | | 150342 | | 271 | | |

Source: CSO Afghanistan Statistical Yearbook 2006

لومړني ښوونځی زده کونکو ته نيږدی دی او په آسانه توګه اورځينی استفاده کولای شی چی بيا دغه ښوونځي په متوسطه او ليسه ښونځي تعقيبيږی.تقريبآ ٪۴۰ زده کوونکی هغه لومړني ښوونځی لری چی له ۵ کيلو متری فاصلی نه لږ مو قعيت کی قرار لری،لاکن ٪۲۸ بايد ۱۰ کيلومتره مزل وکړي چي نږدې لومړني ښوونځي ته ورسيږي ، له څاورمی برخی زيادتر زده کوونکي بايد 5 کيلومتره مزل وکړي چې متوسطه ښوونځيو ته ورسيږي او د ٪۴۰ زده کونکو لپاره دغه فاصله له ۱۰ کيلومتره څخه زياد دی،ليسه ښوونځيو ته لاس رسی لانود هم محدود دی يوازی ٪۱۲ زده نيږدی ليسه ښوونځی ته لاس رسی لری چی په ۵ کيلو متری کی موقعيت لری، دوه پر دريمه زده کوونکي بايد 10 کيلومتره نه ډير مزل وکړي چې ليسه ښوونځيو ته ورسيږي.

همدرنګه قندهار ولايت کی د عالی تحصيلاتو سهولتونه هم موجود دی ، او ددی ولايت په پوهنتون کی ځلور پوهنځی (طب ، انجينيری ،زراعت، تعليم او تربيه.)موجود دی . په 2005 کال کی 808 محصلين چی 795 (98.4٪) يی نارينه او 13 (1.6٪) يی ښځينه وه.او له دوی نه 151يی په لومړی کاال کی وه،چی (99.4)150يی نارينه او ۱ (0.6) يی ښځينه محصلين دی .640 نارينه محصلين يی په ليلی کی چی دی پوهنتون له خوا جوړ شوی ژوند کوی .همدارنګه پدی ولايت کی د ښوونکو تعليمی مرکز موجود دی چی په 2005 کال کی ۷۲ زده کوونکی درلودل چی 70٪ يی نارينه او 30٪ يی ښځينه وه.په 2005 کال کی له دی تعليمی مرکز نه 90 تنه ښوونکی چی 58٪يی ښځينه او42٪ يی نارينه وه.

**هـ . روغتيا**

د ناروغیو پیښو د کمولو او د ژوند د کچې د لوړولو د پاره مهمه ده چې اساسي روغتیایي مرکزونو او روغتونونو ته لاس رسی په اسانه توګه وشي او د ټولو خلکو د پاره دا ورتیا ورکول چې په ربښتیني پرمختیا او وده کې برخه واخلي، د قندهار په ولایت کې د روغتیایي خدمتونو لومړنی اسانتیاوې شته دي. په ۲۰۰۵ کال کې په دغه ولایت کې 20 روغتیایي مرکزونه او 8 روغتونونه وو چې ټول ټال یې 375 بستره وې. په دغه ولایت کې 140 ډاکټران او 288 نرسان کار کوي چې د روغتیا وزارت له خوا په کار ګمارل شوي دي، د ۲۰۰۳ کال سره پرتله دوه برابره یې ډاکټران (له تنه څخه77) او 50٪ یې نرساني (له 188) زیاتې کړل شوي دي. په دغه ولایت کې د روغتیا عمده اسانتیاوې په لاندې جدول کې په ګوته کیږي:

| روغتیایي خدمتونه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| روغتونونه | | کلینیکونه | | |
| ولسوالی | د صحی پوستونو شمیر | اساسی روغتیایی مرکز | جامع روغتیایی مرکز | ولایتی/ولسوالی روغتون |
| د قندهار ښار | 0 | 9 | 2 | 1 |
| سپین بولدک | 17 | 3 | 0 | 1 |
| تخته پل | 5 | 0 | 1 | 0 |
| پنډ | 28 | 2 | 1 | 0 |
| داماں | 11 | 1 | 1 | 0 |
| ارغستان | 16 | 0 | 1 | 0 |
| خاکریز | 6 | 1 | 0 | 0 |
| غورک | 0 | 1 | 0 | 0 |
| نیش | 4 | 0 | 1 | 0 |
| شورابک | 0 | 0 | 0 | 0 |
| ریګستان | 0 | 0 | 0 | 0 |
| ارغنداب | 10 | 1 | 2 | 0 |
| پنجوایی | 14 | 0 | 1 | 0 |
| میوند | 14 | 0 | 1 | 0 |
| ژیره | 13 | 0 | 1 | 0 |
| شاه ولی کوټ | 27 | 1 | 1 | 0 |

Source: UNAMA

په دغه ولایت کې همدارنګه 94 درملتونونه دي چې 92 یې د خلکو او 2 یې حکومتي دي. درملتونونه یوازی په 45 کلیو کی موجود دی،45٪ خلک باید له لسو کیلومترو څخه زیات مزل وکی چی نیږدی درملتونو ته ورسیږی.

د ټولنې زیاته فیصدی تل د پاره روغتیایي کارکوونکي په ټولنه کې نه لري. 39 فیصده د نارینو شورا او همدا ډول 59 فیصده د ښځو شورا ویل چې روغتیایي کارکوونکی نه وه او دواړو ډلو ویل چې نیږدې ترین روغتیایي مرکز یې کلینک (روغتیایي اساسي مرکزونه) دی چې بستر نه لري. پدی ولایت کی یوازی 3.5٪ وګړی روغتیایی مرکزونه لری او 4.2٪ خلک یې په کلیو کی ډیسپنسراني لری.تقریباً نیمایی (50٪) خلک باید له لسو کیلو متره څخه ډېر مزل وکی چی صحی خدماتو ته لاس رسی پیدا کی .(55٪ صحی مراکزو ته او 51٪ ډیسپنسرانیو ته)

**و. ټولنیز خوندي توب:**

د ورتیاوو لوړول ، موقع او امنیت په لویه پیمانه کمزوری او ضعیف دی. افغانانو ته مهمه ده چې د اقتصاد د لوړولو په وسیله نیستي کمه او په ځان باندي تکیه او باور زیات کړي. د قند هار په ولایت کې د اقتصادي ستونزی نسبتاً ډېره ده. پدی ولایت کی یو پر دریمه کورنی کا ل کی 3-6 (33٪ کال کی ) کرته پوری د خواړه په برابرولو کی له ستونزو سره مخا مخ کیږی،او له پنځم کورنی څخه ډیر کال کی ۳ زله (22٪) داسی ستونزو سره مخامخ کیږی. لکه چی په لاندی جدول کی ښودل شوی.

| په تېر کال کې د کورنیو د خوراکي اړتیاوو د پوره کولو ستونزې | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | هیڅ کله نه | په انتخابي توګه (۱ـ ۳ وخته) | خینې وخت (۳ – ۶ وخته) | ډېرى وخت (په میاشت کې یو ځو وخته) | زیاتره (ډېر واقع کېږي) |
| د کورنیو سلنه | 38 | 22 | 33 | 4 | 3 |

Source: NRVA 2005

په دغه ولایت کي دریمي برخي (٣٨٪) نفوس ته ستونزمنه ده چي لږ تر لږه ورځني د ضرورت وړ خواړه وخوري کومو ته چي بدن ضرورت لري. په کلیوالو سیموکي نیږدي ټول (26٪) نسبت 37٪ د ښار خلکو نه د خوراکي رژیم ډېره ټیټه کچه او کمزوري خوراکي لګښت لري لکه په لاندي جدول کي.

| د خوړو د لګښت ډولونه د ټولو کورنیو د پاره | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | تیټ خوراکي رژیم | | ښه خوراکي رژیم | |
| کورنیو سلنه | ډېر کمزوری خوراکي لګښت | کمزوری خوراکي لګښت | یو څه ښه خوراکي لګښت | ښه خوراکي لګښت |
| اطراف | 28 | 36 | 22 | 15 |
| ټو ل ټال | 26 | 47 | 20 | 17 |

Source: NRVA 2005

په ٢٠٠٥ کال کي د قندهار ولایت 91٪ خلکو د خوړو مرستي ترلاسه کړي چي ټول یي 870936 تنو ته کڅه ورسیده. سر بېره پردې چي 33٪ کورني پورنه اخلي. 58٪ کورنیو ویل چي د اخیستل شوو پورونه ډېری برخه د خوراکي توکو د رانیول د پاره استعمالوي. ١١٪ کورنیو نه ډېرو د خپلو صحی ستونزو د پاره مصرفوي. 41٪ کورنیو ویل چي د دوی اقتصادي حالت د تېر کال په شان دی، 40٪ کورنیو ویل چي د دوی اقتصادي حالت د تېر کال په پرتله سږکال خراب شوی دی، لکه په لاندي جدول کي:

| د اقتصادي حالت پرتله تېر کال سره | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | ډېر خراب | خراب | یو شان | یو څه ښه | ډېر ښه |
| د کورنیو سلنه | 14 | 26 | 41 | 18 | ١ |

Source: NRVA 2005

په ٢٠٠٥ کال کي نږدي د ټول نفوس نیمو کورنیو ویل چي ناڅاپي پېښوپه تېر کال کي تاواني کړي دي چي د کنټرول وړ نه وه (48٪) ۵۵کلیوالي کورنیي دغو ناورینونو ته متوجي وي اود ښاری 32٪خلک له دی ستونزو سره مخامخ شوی. هغه خلک چي په ښاری سیمو کي اوسیږي زیات د امنیت، ناڅاپي طبیعي پېښي سره مخامخ دي په داسی حال کی چي په کلیوالی سیموکی څښلو اوبه ، ناڅاپي پېښواو ناورینونو ته متوجي وي لکه په لاندي جدول کي:

| د هغو کورنیو سلنه (٪) چي په ولایت کي له ناورینونو سره مخامخ شوي دي | | | |
|---|---|---|---|
| د ناورین ډول | اطراف | ښاري | اوسط |
| د څښلو اوبه | 41 | 6 | 34 |
| زراعت | 33 | 3 | 27 |
| طبیعي پیښي | 40 | 30 | 38 |
| بدامني | 23 | 29 | 34 |
| مالي | 14 | 14 | 14 |
| روغتیا او ساري ناروغی | 17 | 3 | 1 |

Source: NRVA 2005

له هغو کورنیو چي تاواني شوي دوه پر دری یي ویل چي تر اوسه له هغو ناورینونو نه وتلي نه دي چي په تېرو ١٢ (٦٣٪)میاشتو کي ور ته پېښ شوي او زیاتر له یو پر دری په (35٪) کورنیو ویل چي دوی بېرته دغه ناورینونه قسمُ کنټرول کړي دي.

**ز : حکومت کوونه، د قانون حاکمیت اود بشر حقوق**

په ملي اوولایتی کچو د حکومتي ادارو ځواکمنتیا او جوړونه د دي د پاره مهمه ده چي مناسب پرمختګ او سمون د خدمتونو په برابرول او د حقونو ساتنه ټولو افغانانو ته تر لاسه کړي.

نوره داسي کومه د ولایتي کچي معلومات چي له ملي منابعو څخه تجزیه شوي وي په دي ځای کي نه ده راوړل شوی.

**ح: امنیت**

په زور باندي د قانون د پلي کولو يقيني کول چي له ډاره او ويرې نه پرته يو خوندي چاپيريال پکي رامنځ ته کيږي او د ټولو افغانانو حقوق پکي خوندي شي ضروري خبره ده. چي دا کار به د خلکو په ازاد ډول حرکت او د اشياوو او نظرياتو او د اقتصادي پرمختګ لپاره زمينه برابره کړي.

د UNDSS د ارزوني د ريپوټ له مخي د قندهار په ولايت کي د امنيت حالات اوس هم نازک پاتي شوي او ددې ولايت په لويديزو ساحو کی بی امنيتی ډيره د چی د شورشيانو او د حکومت ضد عناصر د عملياتواو انتحاری حملی په دغو لويديزو ساحو کی ډير ليدل کيږی،پدی ولايت کی د امنيتی قواو په مينځ کی فساد ليدل کيږی.د قندهار لويديزی منطقی لکه پنجوايی ، ژيره او ميوند, د نړيوال سوله ساتي ځواکونه(ISAF ) ، افغان ملی امنيتی ځواکونه (ANSA) د حکومت ضد عناصراو د يا غيانو مرکز دی،همدارنګه د کانادا نړيواله امنيتی ځواکونه CISAF دد ی ولايت په بعضو برخو کی فعاليت لری.دا ولايت نه يوازی د مو قعيت له نظره ياغيانو لپاره مهم د ی بلکه له نورو مختلفو دلايلو په وجه دی ياغيانو د پاملرنی وړ ګرځيدلی.

په دی ولايت کی ددولت ضد عنا صر له مختلفو تکتيکونو نه لکه:انتحاری حملی، په څمکو او لويو لارو کی بمب ايښودنه او مستقيم حملو نه کار اخلی.همدارنګه شمال خواته پراته و لسوا لی لکه غورک ، ژيره شاه ولی کوټ او ميان نشين ولسوا ليو کی د ياغيا يانو حملات لکه په غربی سا حو کی ندی تجر به شوی.او دا منطقی اوس مهال ترانزيتی حمايوی لاره د سنګين ، کجکی ، هلمند، دهرود، نيش ، چوره په زابل کی. او ميزان او دايچوپان کی ده.

د UNDSS ارزوني لاندي لاملونه د قندهار په ولايت د بدامنی د پيدا کولو د پاره په ګوته کړي:

| Factors of Insecurity | |
|---|---|
| **د بدامنی لاملونه** | |
| ناقانونه وسله والي ډلي | ناقانونه وسله والي ډلي د افغان ملی پوليس(ANP) او افغان ملی نظامی اردو (ANA)د نشتوالی له امله مختلفی حملی او بی نظمی يی رامنځ ته کړی ده ،ګن شمير ګروپونه پوليسو ته جذب شوی او د ولايت په لويديزو او نورو ساحو کی په نظامی عملياتو بوخت دی،او پدی اوتخروکی د DAIGپروګرام دی ولايت کی ندی پلی شوی. |
| د حکومت ضد عناصر | د دولت مخالفين د شتون له وجي په ډيرو ولسواليو کي په دی ولايت کي امنيتي حالت بي ثباته دی. |
| جنايتونه او ترتيب شوي جنايات | په قندهارکی د سهيلي ګرد چاپير ولايتونو جنا يتونه نه ډير نه دی، د ترياکو له جنايت نه پرته، لويه لاره د داړه مارانو (لاره وهونکو) له خوا وهل شوی وي. لوی لار وهل او نور جرايم د يا غيانو مه خوا ليدل کيږی. |
| مخدره توکی | د قندهار ولايت د مملکت په کچه دوهمين د نشه يی توکو توليد کوونکی دی او د G-LPE پروګرام دی ولايت کی تطبيق شوی. |

**د معلوماتو سرچيني**

**د افغانستان د سرشميرني کتاب** ۲۰۰۶، د سرشميرني مرکزي دفتر

**جغرافيه**: سيمه

**ديموګرافيک او نفوس**: کليوال او ښاري نفوس

**اداري جوړښت:** ټول حکومتي کارکوونکي

**اقتصادي حکومت کوونه او د خصوصي سکتور وده:** کرنيز کوپراتيف، غرۍ، څمکه اضافي پانګه

**ښوونه**: لومړنی او منځنی ښوونځي، زده کوونکي او ښوونکي، د لوړو زده کړو اسانتياوي، ټول زده کوونکي، د لومړي کال زده کوونکي او فارغين، د پوهنتون په ليلو کي محصلين، مسلکی عالي ښوونځي، مامورين، زده کوونکي او فارغين، د ښوونکو د روزني اداري، زده کوونکي او فارغين.

**روغتيا**: د روغتيايي مرکزونو شميرې، روغتونونه، بسترې، ډاکتران، نرسان، درملتونونه.

**تولنيز خونديتوب**: د خوراکي مرستو ځانګړي کول.

**تولنيز اقتصاد او ديموګرافيک پيژندنه** (په ولايت) ۲۰۰۳ کال، د سرشميرني مرکزي دفتر

**جغرافیه**: ټوفوګرافي، د ولسوالیو شمېر، ولایتي مرکز – نفوس

**ډیموګرافیک او نفوس**: د ولسوالیو په سر نفوس، د کورنیو شمېر، ویونکي لویې ژبې

**بنسټیز جوړښت او طبیعي سرچینې**:د سړکونو ډولونه (د افغانستان د کلیوالي پرمختیایي اداری د تحلیل په اساس)

**اقتصادي حکومت کوونه او د خصوصي سکټور وده**: صناعتي محصولات، واړه صناعتونه او لاسي صنایع

**ښوونه**: له تعلیمي خدمتونو نه واټن

**روغتیا**: له روغتیایي خدمتونو نه واټن

**د ملي کړاو او خطر تحلیل ۲۰۰۵ کال**، د کلیو پراختیا او بیارغوني وزارت

**ډیموګرافیک او نفوس**: د کورنیو منځنۍ کچه

**بنسټیز جوړښت او طبیعي سرچینې**: **د** څښاک دپاکو اوبو استعمال، د څښاک اوبو ته د تګ وخت، د تشنابونو خوندي اسانتیاوو ته لاس رسي، د تشنابونو ډولونه، بریښنا ته د کورنیو لاس رسي، ولسي بریښنا ته لاس رسی.

**اقتصادي حکومت کوونه او د خصوصي سکټور وده**: د کورنیو د عوایدو سرچینې، د کورنۍ پورونو اخیستل، په اقتصادي ډګر کې د پور پانګونه.

**کرهنه او دکلیو پراختیا**:د ځمکو او باغونو مهم فصلونه، د سرې او پاروګانو ډول او استعمال، للمی او آبي ځمکې ته لاس رسي، د څارویو او چرګانو ساتنه.

**ښوونه**: د زده کړې عمومي کچه او د ۱۵ نه تر ۲۴ کلنۍ پورې د نفوس کچه یې، په ښوونځیو کې شمولیت

**روغتیا**: د ټولنې روغتیایي کارکوونکو شتون، نږدې روغتیایي اسانتیاوې

**ټولنیز خوندیتوب**: داړینو خوراکي توکو په پورکولوکې ستونزې، د نفوس هغه اندازه چې د تجویز شوي ورځنۍ انرژي څخه کمه اندازه اخلي، خوراکي رژیم تغیر او د غذا لګښت، د ۱۲ میاشتو د پخواني حالت په پرتله، د خوړو او طبي لګښتونو د پاره د پور کارول، د ناورینونو کړاو، ناورین ډولونه او د ناورین څخه ژغورنه.

په کوچیانو باندې د ملي بېلا بېلو سکټورونو ارزونه او تحلیل

**ډیموګرافیک او نفوس**: په اوړي او ژمي کې د کوچیانو نفوس

**ښوونه**: د کوچیانو د زده کړې کچه، ښوونځیو ته د کوچیانو حاضریدل په ژمي او اوړي کې

**جغرافیه**: نقشه، ځای او تشریح

**ډیموګرافیک او نفوس**: لوی توکمونه،قومونه او مذاهب(ادیان)

**بسپنه ورکونکی فعالیت**: د ملګرو ملتونو اداري او پروژې، کورنۍ او بهرنۍ نادولتي مؤسسې او پروژې

**زیربنا او طبیعي سرچینې**: د سړکونو د تګ وخت، د موبایل دنټ ورک پوښښ

**اقتصادي حکومت کونه او د خصوصي سکټور وده**: عمومي اقتصادي پېژندنه، لویې انډسټراني، سواګریز فعالیتونه.

**روغتیا**: روغتیایي اسانتیاوې

**امنیت**: د امنیتي حالاتو ارزونه، د ناامنۍ لاملونه.

**هغه معلومات چې یوناما برابر کړي دي**

**ولایتي پېژندنه**

**اداري جوړښت**: د لویوڅانګودفترونه، ولایتي وده، دافغانستان دملي پرمختیایي ستراتیژي (ANDS)کې ولایتي پانګونه او بشپړونه د ولایتي پراختیا پلانونه. د ADF د پاره متن د پاڼي بحث

**اداري جوړښت**: د ولایتي پراختیایي شوراګانوکارونو ارزونه.

**د وزارتونو له خوا برابر شوي معلومات**

**اداري جوښت**: د ولایتي پراختیایي شوراګانوجوړښت ( اقتصاد وزارت)، د ولسوالیو پراختیایي شوراګاني او د مرکز پراختیایي شورا(د کلیو پراختیا او بیا رغوني وزارت).

**دبسپنه ورکونکي فعالیت**: د اسانی برابرونکی شریکان د ملي پیوستون پروګرام د پاره (د کلیو پراختیا او بیارغوني وزات)

## 3. د کندهار ولایت اته گونی پرمختیایی اهداف

**بنیستیز او طبعی سرچینی:**

د کندهار ښار دسړکونو پخول او د زیرزمینی او هوایی پلونو جوړول دخلکو د گڼی گوڼی د مشکلاتو دحلولو او ترافیکی پیښو دمخنیوی پرموخه.

**اقتصادی حاکمیت او د خصوصی سکتور وده:**

دپانگی اچونی لپاره ذمینه برابرول ترڅو بهرنی اوکورنی سوداگر وکولی شی چی په دغه ولایت کی پانگه اچونی وکړی.د کوچنیو پورونو د سیستم جوړول دخلکو د اقتصادی حالت د ښه کیدو او ستونزو د حل کیدو په خاطر.

**کرهنه او دکلیو پراختیا**

د اوبو رسونی دسیستم تقویه کول،د اصلاح شویو تخمونو ویش او توضیع کول او د ټولو تحقیقاتی او تکثراتی فارمونو جوړول د ځنگلونو او باغونو د بیاراژوندی کولو پرموخه

**پوهنه**

د ښوونځیو د تعمیرونو جوړول او د مسلکی ښوونکیو روزل او گمارل د ښوونی او روزني د ستونزیو د له منځه وړلو او دیو ښه درسی چاپیریال د رامنځ کیدولو لپاره

**روغتیا او تغذی**

دښځینه او مسلکی ډاکترانو د استخدام او د صحی او روزنیزو پروگرامونو په واسطه د مور او ماشوم د صحت تامین

**ټولنیز خوندیتوب**

دبیرته ستنیدونکیو مهاجرینو لپاره دکورونو او هغوی ته دکار دزمینی برابرول ترڅو له یوی خوا هغوی ته سرپناه پیدا شی او له بلی خوا یی اقتصادی حالت ښه شی.

**حکومت،د قانون حاکمیت او بشری حقونه**

د ټولنیز عدالت تطبیق کول،د بشری حقونو تامینول او د کوکنارو د کرکیلی مخه نیول دخلکو دهمکارۍ له لاری ترڅو قانون تطبیق او حق حقدار ته وسپارل شی.

**امنیت**

په دولتی ارگانونو کی د ښه او مسلکی خلکو گمارل او د بهرنیو ځواکونو او افغان دولت ترمنځ دهماهنگی رامنځ ته کیدل ترڅو له یوه پلوه امنیت ټینگ او له بل پلوه د ملکی وگړیو دوژل کیدو مخنیوی وشی.

## 4. ولایتی پرمختیا ی پلان

### 4،3. بنیستیز او طبعی زیرمنی

**الف. د دی ولایت د حالت په اړه د ګډونوالو نظرونه:**

**ګډون کوونکیو د دغه ولایت د وضیعت په اړه خپل نظرونه په لاندی توګه څرګند کړل:** دکندهار په ولایت کی مخابراتی سیستم په کافی انداز کی وده کړی ولی دسړکونو حالت چندان ښه ندی یعنی پاخه او اساسي سړکونه ډیر کم دي. دښاری کانالیزسیون سیستم بیا رغونه نده شوی، اکثرا ددفترونو ودانی او مسلخ تعمیرونه خراب شوی دی.

**په ځانګړی توګه میرمنو داسی وویل:** چه فرعی سړکونه ، پلچکونه او دځښاک د اوبو ځاګانی تر یوخه حده اعمارشوی.

دخلکو له نظره له ۲۰۰۵عیسوی کال څخه راپدی خوا ځینی شیان بهتر شوی لکه: په بعضی ساحوکی پاخه سړکونه جوړ شوی، دسړکونو غاړو ته ویالی پینی شوی او هم دمخابراتو حالت ښه شویدی.

**په داسي حال کي چي ځینی شیان بیا بدتره شوی لکه** د سیلاب او د کثافاتو د زیات موجودیت په اثر کانالونه بند شوي او کورونه تخریب شوي دي.

**ګډونوالو ضروری وګڼله چی سړکونه او پیاده لاری پاخه** ، کثافات خوندی ، هوایی او زیرزمینی لاری جوړی شی.

### ب. په دغه ولایت کې دسکتور هدف

**ګډونوالو په دغه ولایت کي** دسکتورپه لاندی هدف موافقه وکړه چی د کندهار ښار سړکونه پاخه،هوایی او زیرزمینی لاری جوړشی ترڅو د خلکو د ګڼی ګوڼی او دترافیکی پیښو مخنیوی وشی.

### ج. غوره او اړین اړتیاوی

**ګډون کوونکیو موافقه وکړه** چی په دغه سکتور کی یی اړین او غوره اړتیاوی چی حل کیدل یی ضروی دی په لاندی ډول دی.

- د سړکونو قریزي کول ترڅو په ترانسپرت کی یسانتیا رامنځ ته شی
- دنیا لګیو کښینول ترڅو سرسبزی را منځ ته کړی
- د پیادرونو پخول دترافیکی حوادثو دمخنیوی په خاطر
- د هواي او زیر زمیني لارو جوړول دي دترافیکی حوادثو دمخنیوی په خاطر
- دکانالیزیسون سیستم اعمارول ترڅو دچټلیو اوامراضو مخنیوی وشی

**د. خلکو د اړتیاو د حل کولو په برخه کی د دولت غبرګون او ځواب**

اړوند وزارتونه د خلکو د اړینو اړتیاو د حل کولو په ځواب کی لاندي ستراتیژی په لاس کی لری چي په دغه برخه کی مرسته کولي شي.

| |
|---|
| د سړکونو قریزي کول |
| د تنظیفاتو لپاره دکانالیزیسون سیستم رغونه |
| د نهالګیو کښینول |
| د پیادرونو پخول |
| د هواي او زیر زمیني لارو جوړول دي |

**هـ . هغه پروژی چی ورته دلومړي توب حق ورکړ شوی:**

ګډون کوونکو لاندي پروژو ته د لومړی توب حق ورکړ چي په اول کال کی تطبیق شی.

- دغه پروژ عبارت دی له:
- دبرق رسولو پروژه د شاولی کوټ، تخته پل او سپین بولدک ولسوالیوته ددولت له پلوه داولسونو په همکاری.
- د ۱۰۰۰کورونود جوړولو پروژه د کندهار ولایت د بیرته راغلو مهاجرو لپاره دخلکو په همکاری.
- دری بابه د نساجي او نخي فابریکي جوړول دکندهار ښار په صنعتی پارکونوکی .
- دابی برق دفابریکی دترمیم پروژه  دکندهار په ښارکی داولس په همکاری
- ۴۰ کیلومتره دکندهار دښار داخلی سړکونه قیرکولو پروژه
- دډنډ ، دامان،ارغنداب په ولسوالیو کی دکانال په مسیر د۷۰فلزی دروازو جوړول
- د خاکریز ولسوالی ۶۱کیلومترو سرک جوړولو پروژه دشا اغا دوراهی نه تر اولسوالی پوری
- ۷۱کیلومترو سرک جوړولو پروژه دمیوند څخه تر غورک پوری